# آبادي اوونيزه


د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ګڼه ۲

شنبه، د ذوالقعدې ۷مه، ۱۴۴۴ هـ. ق کال


## سرليکنه



افغانستان د کرنې ور زياته ځمکه لري، ولې د اوبو د ناسم مديريت له امله يې تر نيمايي زياته ځمکه شاړه پرته ده او کرکيله پکې نه کېږي. اوسمهال اسلامي امارت د اوبو په سم ډول کارولو او مديريت په اړه يو په بل پسې ګامونه پورته کړي دي. د دې چارې تر ټولو ښه بېلګه يې د روان کال د ثور مياشتې په ۳۰مه د فراه ولايت د فراه رود پر سيند د بخش آباد بند دی چې کارونه يې د سردار محمد داوود خان د واکمنۍ پرمهال پيل شوي و، خو هېواد کې د اشغال له امله يې کارونه بشپړ نه شول. دغه ستر بند له هغه مهاله بيا تر دې مهاله د حکومتونو د پام ور ونه ګرځېد او چا ورته پاملرنه ونه کړه. اسلامي امارت په بيا واکمنېدو سره د نورو بندونو او کانالونو ترڅنګ دغه مهم او ستر بند ته پام واړاوه او دادی اوس يې د پاتې چارو د بشپړولو کارونه عملاً پيل شول. د اسلامي امارت د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان کال د ثور مياشتې په ۳۰مه نېټه فراه ولايت ته د خپل سفر پر مهال د ياد بند د پاتې چارو د بيا پيل پرانيسته وکړه. نوموړي د پرانيستې په مراسمو کې د وينا پر مهال د بخش آباد بند اهميت ته په اشارې سره ووېل، بخش آباد بند د فراه ولايت لپاره يوه مهمه او حياتي پروژه ده او دوی په ټول توان د دغې پروژې په بشپړولو کې د فراه ولس تر څنګ ولاړ دي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د دې بند د چارو د بشپړېدو پر وړاندې پرتې ستونزې يادې کړې او ويې ويل، د افغانستان اقتصادي زيربناوو بيارغونه ډېر کار ته اړتيا لري او دوی په جدي توګه هڅې پيل کړې، ترڅو په اقتصادي ډګر کې ستر بدلونونه رامنځته کړي. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت د زيربناوو جوړولو ته پوره ژمن دی. د بخش باد بند هم د زيربناوو له جملې څخه دی او د پاتې چارو بشپړول يې د کرنې تر څنګ د اقتصاد په برخه کې هم رغنده رول لوبولی شي. همدا چې د بخش آباد بند پاتې چارې بشپړې شي؛ نو له شک پرته چې افغانستان به په اقتصادي ډګر کې پرمختګ وکړي او ترڅنګ به يې د کرنيزو محصولاتو په برخه کې ځان بساينې ته د يو قدم په نږدې کېدو سره د برېښنا د کمښت ستونزې هم تر ډېره بريده راکمې شي. په دې سره به هم سوداګري او هم صنعت وغوړېږي، خلکو ته به کاري فرصتونه پيدا او سړي سر عايد به لوړ شي.

## د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال او د اوبو او انرژۍ وزير د بخش آباد بند د تونلونو جوړولو چارو پرانيسته وکړه



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د اوبو او انرژۍ وزير ملا عبداللطيف منصور د بخش آباد بند د تونلونو جوړولو چارو پرانيسته وکړه. محترم ملا صاحب د بخش آباد بند د پرانيستو مراسمو ته ووېل، بخش آباد بند د فراه ولايت لپاره يوه مهمه او حياتي پروژه ده او مونږ په ټول توان د دغې پروژې په بشپړولو کې د فراه ولس تر څنګ ولاړ يوو. دا وعده يوازې په الفاظو کې نه کوو، بلکې په ډېر اخلاص سره به يې چارې په عمل کې بشپړې کړو. محترم ملا صاحب زياته کړه، اسلامي امارت د فراه ولسونو د ستونزو حل د خپل ځان مسووليت ګڼي، موږ بايد تېر کال هڅه کړې وی چې سر کال مو د دغه بند اوبه ذخيره کړې وی او ضايع شوې نه وی؛ خو اسلامي امارت ته د افغانستان ډېرې ستونزې په ميراث ورپاتې دي، چې د ټولو حل په يو وخت کې ممکن نه دی. د افغانستان اقتصادي زيربناوو بيارغونه ډېر کار ته اړتيا لري او په جدي توګه مې هڅې پيل کړې، ترڅو په اقتصادي ډګر کې د ښو تحولاتو شاهدان واوسو. محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال ووېل، د فراه ولسونو د اسلامي نظام د راتلو لپاره ډېرې قربانۍ ورکړې دي، دا اوس زموږ مسووليت دی چې د دوی ستونزو ته رسېدنه وکړو او هغه لويې پروژې ورته بشپړې کړو، چې د دوی اقتصادي ستونزې پرې حل کېدای شي. د بخش آباد بند د پاتې چارو د تکميلې په برخه کې به له شته امکاناتو څخه استفاده وکړو او له قراردادي شرکت څخه هم غواړو چې په اخلاص او امانتدارۍ سره ورسپارل شوې چارې بشپړې کړي. په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ټول ملت ته ډاډ ورکړ، چې د اسلامي امارت مسوولين د هېواد د آبادۍ او پرمختګ لپاره صادق او ژمن دي، له ټول ملت څخه مو هيله دا ده چې د هېواد په بيارغونه

آبادي اوونيزه

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

شنبه، د ذوالقعدې ۷مه، ۱۴۴۴ هـ. ق کال

کې له خپل حکومت سره اوږه په اوږه ودرېږي. د بخش آباد بند له بنې لورې د ۵۰ کيلومترو او له چپ لورې د ۵۲ کيلومتره کانال په لرلو د ٦٨ زره او ۵۹۰ هکتاره کرنيزې ځمکې د خړوبولو وړتيا لري چې پيل شوې چارې به يې په نږدې راتلونکي کې بشپړې شي.

## د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په هرات کې د غالۍ جوړولو له فابريکې څخه ليدنه وکړه



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په هرات کې د غالۍ جوړولو له فابريکې څخه ليدنه وکړه. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په هرات کې د غالۍ جوړولو فابريکه له يوشمېر پانګوالو او سوداګرو سره وکتل او هغوی يې په هېواد کې دننه پانګونې ته وهڅول. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په هرات کې د غاليو جوړولو د دې لويې او معياري فابريکې فعاليت د ټولو هېوادوالو لپاره د وياړ ځای ياد کړ او زياته يې کړه، چې تر دې وړاندې به افغاني غالۍ د نورو هېوادونو په نامه د سيمې او نړۍ هېوادونو ته لېږدول کېدې، چې اوس الحمدلله د دې او دېته ورته نورو فابريکو توليدات د افغانستان په نامه بهر ته صادرېږي. په دغه ليدنه کې پانګوالو او سوداګرو له محترم ملا صاحب سره د سوداګرۍ او پانګونې په برخه کې ځينې ستونزې شريکې کړې او له اسلامي امارت څخه يې د همکارۍ غوښتنه وکړه. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال پانګوالو او سوداګرو ته د يادو ستونزو د حل او بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړ او زياته يې کړه، چې د افغانستان اسلامي امارت د سوداګرو او پانګوالو ملاتړ کوي او له هغوی سره هر ډول همکارۍ ته چمتو دی.

# بخش آباد بند او پر اقتصادي ودې يې اغېزې

ليکوال: فضل ولي شيراني



### سريزه

اوبه د انسانانو په ژوند کې حياتي رول لري او له بل لوري د بشر پر اقتصادي ژوند هم زياته اغېزه لري. د اوبو مسله په نړۍ کې نن سبا ډېره مهمه ده ځکه خوړې اوبه کمې دي او اړتيا يې زياته ده. هر هېواد هڅه کوي چې خپلې اوبه داسې مديريت کړي چې له مخې يې وکولای شي، د برېښنا، کرنې او څښاک په برخه کې ګټه ترې پوره کړي. څېړنې ښيي چې په افغانستان کې نظر د اوبو نورو سرچينو ته له سيندونو او کانالونو ډېره ګټه پوره کېږي. په افغانستان کې لوی او واړه سيندونه شته دي. د هېواد ټول ولايتونه سيندونه لري. د ارقامو له مخې د اوبو لګولو سيستم ٨٤ سلنه سيندونو او کانالونو، اته سلنه چينې، ۷ سلنه کاريزونه او يو سلنه ځاګاني جوړوي. د افغانستان ولاړې اوبه ډېرې په مرکزي او يا غرنيو سيمو او په لوېديځو دښتو کې دي. د افغانستان د اوبو سرچينې د هندوکش غرونو او د هغه لوړې څوکې جوړوي، په تېره بيا هغه واوري چې د واخان، پامير، ختيځ او لوېديځ هندوکش او د بابا پر غره پرتې وي. د پسرلي او اوړي په موسم کې ويلې کېږي او بيا بېلو برخو کې بهېږي. دا چې له روانو پربمانه اوبو څخه ګټه پورته شي، نو حکومتونو ته په کار ده چې په سم ډول يې مديريت کړي. د اوبو د مديريت له پاره مهمه لار داده چې پر روانو اوبو بندونه جوړ شي. له دې بندونو څخه هم د کرنيزو ځمکو د خړوبولو او هم د برېښنا د توليد په برخه کې چې هېوادونه ورته زياته اړتيا لري، ګټه پورته شي. د همدې موخې پر بنسټ اسلامي امارت هڅې پيل کړې دي چې په هېواد کې د اوبو د مهارولو له پاره نوي بندونه او يا هم هغه بندونه چې پخوا جوړ شوي او چارې يې نه دي بشپړې شوې، ورغوي. د دې بندونو له ډلې يو هم د فراه ولايت د بخش آباد بند دی چې اسلامي امارت يې د پاتې چارو د بشپړولو له پاره بوديجه ځانګړې کړې او کارونه يې عملاً پيل شوي دي.

### د بخش آباد بند او د هغه اقتصادي ارزښت

د فراه د بخش آباد بند د پاتې چارو د پيلولو پرانيستنه د روان کال د ثور مياشتې په ۳۰مه نېټه د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او يو شمېر لوړپوړو چارواکو له لوري وشوه. اټكل دادی چې په نږدې راتلونکي کې به يې چارې بشپړې او ګټې اخيستنې ته به وسپارل شي. د بخش آباد بند په کلنۍ ډول شاوخوا يو ميليارد متر مکعب اوبو د زېرمه کولو، د ٦٨ زره

# آبادي اوونيزه

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

شنبه، د ذوالقعدې ۷مه، ۱۴۴۴ هـ . ق کال


او ۵۹۰ هکتاره کرنيزې ځمکې د خړوبولو، د ۲۷ ميګاواټه برېښنا د توليد وړتيا لري. د دې بند په جوړېدو به تر ځمکه لاندې اوبو زېرمې تغذيه او د اوبو بې ځايه لګښت مخه به ونيول شي. دغه راز به د سېلابونو اوبه مهار او د سطحې اوبو په برخه کې به رغنده رول ولوبوي. د بخش آباد بند په جوړېدو به کرنه او مالداري وده وکړي. د دې سکټور د برخې محصولاتو کې به زياتوالی راشي. له دې ټولو سره به په ياد ولايت کې د سړي سر عوايدو کچه لوړه شي.



## پايله

اوبه هېوادونو ته حياتي اهميت لري. نو ښه خبره داده چې د هېواد په کچه د اوبو مهارولو له پاره لوی او کوچني بندونه ورغول شي. دا چې د اوبو د بندونو جوړول لګښت ته اړتيا لري، خو د سطحې اوبو، تر ځمکه لاندې اوبو د زېرمو تغذيه او د اوبو د بې ځايه لګښت له پاره اړينه ده چې بندونه جوړ او يا هغه بندونه چې پخوا جوړ شوي، خو چارې نه دي بشپړې شوي، د هغو پاتې چارې بشپړې شي. په دې سره به له يوه لوري په هېواد کې د کرنې او سوداګرۍ سکټورونه وده وکړي او له بل لوري به هېواد تر يوه بريده له بهر څخه د واردېدونکي برېښنا څخه خلاصې ومومي. د برېښنا په برخه کې د شته ستونزو په له منځه تلو به د افغانستان صنعت پرمختګ وکړي او د صنعت په پرمختګ سره به اقتصادي ټيکاو رامنځته او هېواد به د پرمختګ په لور چټک ګامونه پورته کړي. اسلامي امارت پورتنيو ټکو ته په پاملرنې سره د اوبو مهارولو او مديريت په برخه کې رغنده ګامونه پورته کړي دي چې ښه بېلګه يې همدا د فراه ولايت د بخش اباد بند د پاتې چارو بشپړول دي. د اسلامي امارت مسوولينو تل په خپلو خبرو کې پر دې خبره ټينګار کړی دی چې د افغانستان پرمختګ او آبادول ورته لومړيتوب لري. د بخش اباد بند د پاتې چارو د پيل په مراسمو کې، محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، بخش آباد بند د فراه ولايت لپاره يوه مهمه او حياتي پروژه ده او مونږ په ټول توان د دغې پروژې په بشپړولو کې د فراه ولس تر څنګ ولاړ يوو. نوموړي زياته کړه، د افغانستان اقتصادي زيربناوو بيارغونه ډېر کار ته اړتيا لري او دوی په جدي توګه هڅه کوي چې په اقتصادي ډګر کې مثبت بدلونونه رامنځته کړي. د رياست الوزراءاقتصادي مرستيال دغه راز د بخش آباد بند د پاتې چارو د بشپړولو برخې ته په اشاره وويل، په دې برخه کې به له شته امکاناتو څخه استفاده وکړي او له قراردادي شرکت څخه يې هم وغوښتل چې په پوره امانتدارۍ ورسپارل شوي چارې پرمخ بوځي. د بخش آباد بند له ښي لوري د ۵۰ کيلومتره او له چپ لوري د ۵۲ کيلومتره کانال په لرلو د ۶۸ زره او ۵۹۰ هکتاره کرنيزې ځمکې د خړوبولو وړتيا لري چې پيل شوي چارې به يې په نږدې راتلونکي کې بشپړې شي.

## د سوالګرو راټولولو کمېټې پر کابل ښار سربېره د هېواد په لويو ښارونو کې هم د سوالګرو راټولولو لړۍ پيل کړې

د غريبو او بې‌وزله هېوادوالو ستونزو ته د رسېدو او هغوی ته د دايمي کار او معاش برابرولو په هدف د اسلامي امارت له لوري د سوالګرو راټولولو کمېټې پر کابل ښار سربېره؛ ننګرهار، کندهار، بلخ، هرات، نورستان، پکتيا او لوګر ولايتونو کې هم د سوالګرو راټولولو لړۍ پيل کړې ده.

د سوالګرو راټولولو کمېټې له لوري د ۱۴۰۲ لمريز کال د جوزا مياشتې تر ۵مې نېټې د کابل ښار له بېلابېلو سيمو څخه ۳۲۶۵۸ سوالګر راټول شوي، چې تر ارزونې وروسته يې ۶۱۷۷ ښځينه، ۱۵۹۵ نارينه او ۵۲۶۵ ماشومان مستحق پېژندل شوي دي.

په مستحقو ماشومانو کې بيا ۷۱ بې سرپرسته ماشومان دي چې له بايوميټريک وروسته د کار او ټولنيزو چارو وزارت له لوري روزنتون ته داخلېږي او هلته ورته پر اعاشې سربېره د زده کړو او تعليم زمينه هم برابرېږي.

د سوالګرو راټولولو کمېټې مسؤلين وايي، په کابل ښار او نورو ولايتونو کې يې پر مستحقو پېژندل شوو سوالګرو په مياشتنې ډول د نغدي او خوراکي توکو د مرستو وېش لړۍ پيل کړې، چې دا پروسه به په راتلونکي کې هم دوام ولري.

